# باچاخان سره زمونږ بې رخي

بشیر خان متېه



د ستر پښتون بابا باچاخان فخر افغان خان عبدالغفارخان د شخصیت،ژوند او جدوجهد په حق له یو داسې څه لیکل چې د خپل مضمون سره پوره انصاف اوکړي څه آسان کار نه دے. بیا په یوه مقاله کښې چې په یو محدود وخت کښې واورولے شي. دا کار بېخي ناممکن دے. د ستر بابا د شخصیت او د هغه د اوږد ژوند او اوږدې مبارزې دومره اړخونه،ښاخونه او بابونه دي چې هغه نۀ په یوه مقاله او نه په یو کتاب کښې راټولیدے شي. که چرته یو نظر باز داسې راپېدا شي چې د سمندر په تیارۀ تل کښې پرتې ټولې ملغلرې د ورایه لیدے شي او دے بیا خپل ټول ژوند،قوت او بصیرت دې کار ته وقف کړي چې د بابا د ژوند د بیلو بیلو اړخونو څېړنه او راغونډول وکړي او د سر په سترګو او د زړۀ په رڼړا ئې اولیکي. نو شاید د بابا په حق له یو داسې نقش دنیا ته وړاندې کړي چې د خپل مضمون څه نا څه سارے وي. خو بیا به هم ډېر څه ناوئیلي پاتې شي. دا څکه چې د آدم په اولاد کښې کله کله، ډېرکله کله، داسې انسانان پېدا کېږي چې د هغوي په حق له هر څه وئیل ناممکن وي. د تیارۀ جهان په مینځ کښې د څانه راپېدا شوے د رڼړا مینار هر څوک وینی، خو د دې نه په هر لور د خورو ورو پلوشو شمېر څوک کولے شي؟ د سوئې لوئې دشت په مېنځ کښې د ختلې سرچینې رنړې اوبه هر چا ته ښکاري خو څوک دا وئیلے شي چې د دې نه هرې خوا ته تللي رودونه او لختي د کومو کومو تږیو تنده ماتوي او د ریګزار د کومو کومو زرو زړونه خړوبوي؟ د باچاخان په حق له به ډېر څه اولیکلے شي. ډېر څه به نا لیکلي پاتې شي. نه سمندر څوک تللے شي او نه د آسمان ستوري د شمار دي. زۀ به د خپلې مقالې په حق له دومره اووایم چې دا د عقیدت او احترام څو ټکي دي چې

خپل بابا ته ئې وړاندې کوم.

بابا د ځایه خدائې لوئې زېږولے ؤ. په وینه پاک ساک پښتون ؤ. هډ ئې لوئې قوي او درونډ. داسې چې په لکونو خلقو کښې ځرګند. د بدن او د زړۀ زور ئې د غرۀ سره سم ؤ. اراده ئې فولادي او نۀ بدلېدونکې. همت ئې بې مثاله، نه ستړے کېدونکے، نه ماتېدونکے. خو د بابا تر ټولو نه ممتازه او بې بها سرمایه هغه پاک او رښتونے زړۀ ؤ چې د انساني مینې او د انساني خدمت د جذبې نه ډک ؤ. د بابا په زړۀ کښې ځائې،دائمي یو ډوب، مستقل د غم زړے کرلے پروت ؤ. د ځان د غم نه د هغه نورو بې شمېره انسانانو د غم چې د خدائې په مزکه د خدائې لخوا د ورکړې شوي حقوقو او نعمتونو نه محرومه وو. د هغه بې وسه،بې برخې، ځپلے شوے،رټلے شوے او محکومو خلقو د غم د غم د چا چې بل غمخور نه ؤ.

د بابا د ځلمیتوب او شعور د رسېدو زمانه د مغربي یورپ او خصوصاً د برطانیې د عالمي استعمار د انتهائي عروج زمانه وه او د ایشیا او افریقې لوئې برخې د استعمار په پنجو کښې ګېرې وې. بابا ولیدل چې د مزکې په مخ حالات او نظام نه وو چې د یو ریښتوني انسان زړۀ پرې خوږ شي. هغه ولیدل چې ځینې انسانان آزاد دي ځینې غلامان. ځینې حاکمان دي او ځینې محکوم. ځینې ماړۀ او پټ دي او ځینې اوږي بربنډ. ځینې له ټولنه عزت او لوړ مقام ورکوي او ځینې له سپک او ټیټ ځائې. خصوصاً هغه ولیدل چې پښتانه چې د هغه خپل قوم ؤ او په تاریخ کښې د یو لوړ او ځرګند مقام خاوندان وو په دغه وخت کښې نه یواځې ټوټې ټوټې او پردي غلامان وو بلکې په دغه سبب په نورو قسم قسم ټولنیزو رنځونو اخته وو. دوي کښې د آزادۍ خپلولو احساس ډېر کمزورے ؤ. دوي د لیک لوست سر مینه نه لرله. دوي په تربګنو او دښمنو بوخت وو. دوي خپلې ژبې او ثقافت ته پام نه کولو. دوي کسب ګرو ته په سپک نظر کتل او په رنګ رنګ طبقاتي تمیزونو او تضادونو کښې راګېر وو. بابا چې دا وکتل نو د انساني مینې نه ډک زړۀ ئې ژوبل شو او د لوئې برطانوي استعمار د زور،ظلم او تیارې نه ډک چاپېریال کښې ئې اراده وکړه چې هر څنګه وي او په هر قیمت چې وي. خپل اولس به د محکومیت او د هر رنګه ټولنیزو رنځونو نه خلاصوي. او بابا په یو ځائې د یو لوئې سیاسي مجاهد او د ټولنې د همدګیر مصلح په حیث د عمل مېدان ته ورګډ شو. او چې یو ځل بابا اراده وکړه اوخپله قومي ملا ئې اوتړله نو د خپل آخري وخت پورې ئې د حق دپاره او د ظلم،استبداد،تعصُب او ناپوهۍ خلاف خپله اوږده مبارزه د یوې لحظې دپاره هم پرې نه ښوده.

بابا د هغه پېغام چې د نورو دپاره ئې لرلو په خپله یو عظیم عملي مثال ؤ. د استعمار، محکومیت،استبداد،زورګیري،جهالت،نفرت او تفریق په خلاف د هغه مبارزه تر آخري سلګۍ جاري وه. په دې لار کښې هغه هاغه سختې،

تـکـلـیـفـونـه او قـربانۍ اوګاللې چې سړے ئې په تصور هم حېرانېږي. هغه د خپلې ودانې کورنۍ د آسوده ژوند د آسائش او خوږو نه خبر نه شو. هغه خپل ژوند تریخ کړو چې د نورو ژوند خوږ کړي. د هـغـه ډېر ژوند د جېلخانې د سیخونو شاته په تورو کـوټګو کښې تېر شو. د هغه درانه هڅونه د زولنو زنګـونو اوخوړل او د هغه د بدن او روح آرام د قوم او انسـانـیـت غم. خو تر آخر دمه نه د هغه د ارادې لـوئې غـر څـه کـنډاؤ کړے شو او نه د هغه په ارته سیـنــه کښې د میـنـې لوئې دریاب څـه اوچ کړے شـو. د هـغه عزم او حوصله هم هغه شان ځوانه وه لـکـه د وړومبـۍ ورځې نه چې وه او د هغه زړۀ هم هـغسې پـــه میـنـــه ډک او د امن لېوالــه ؤ لکـه د وړومبۍ ورځ نه چې ؤ.

د بـابـا د تـاریـخـي مبـارزې چې د شلمې پېړۍ د تـاریخ یو اوږد او ځلاند باب دے. ذکر دلتـه مـمـکن نۀ دے دومره وئیـل البته ضروري دي چې دے پــه انســان او امـن مـئین لوئې پښتون چې د ظـلـم،استبداد او بدۍ خلاف جهاد شروع کړو نو د دې یو عجیبه خصوصیت ؤ. دغه وخت چې دے په جـنـګ بـخـت ؤ نو هم د دۀ وسله د مینې او د امن د خـواهـش پېـداواره وه. دۀ د خپلې مبارزې دپاره د تشـدد او نـفرت نۀ بلکې د عدم تشدد او مینې لار خـوښـه کړه. د بـاچـاخـان منفرد لوئې والے په دې کښې دے چې اګـرچـه دۀ د خپل محکوم قوم دپاره آزادي او حـق غـوښـتـلـو. دۀ د هیـچـا نه نفرت نه کولو او په هیڅ حال کښې ئې د تشدد لار خوښه نه کړه. د کومو کومو مرحلو نه چې باچاخان او د هغه مـلګـري تېـر شـوي د هغې په سنګ کښې په دې ټـول مـزل کښې د عـدم تشـدد لار ټینګول د یوې مـعـجزې نه کمه نۀ ده او په دې خبره ګواهي کوي چې د بـاچـاخان د فکر او عمل او له آخره سرچینه هـغــه پاک زړۀ ؤ چې د ټول انسان د مینې او د ټول انسانیت دپاره د امن د طلب او د خدمت د جذبې نه ډک ؤ.

د تاریخ لوستونکي په دې خبر دي چې ډېر کـم داسې کېږي چې یـو انسـان دنیا ته یوه نظریه راوړي او پــه خپـل ژونـد پـه هغه نظر په خپله هم عمل وکړي او نور خلق هم د خپل ځان سره د عمل پـه مېـدان کښې مـلګري کړي. اکثر داسې کېږي چې نـظـر یـو تـن ورکړي او عـمل پرې نور کسان کـوي. باچاخان د تاریخ په هغه لړو ممتازو کسانو کښې دے چې دۀ نۀ یـواځې په خپله نظریه په ځان پـوره پوره او مثالي عمل وکړو. بلکې د ځان سره ئې په لکونو لکونو داسې ملګري پېدا کړل چې په دغه نظریه د خپل سر و مال او بال بچ نه تېر شول. خـصـوصاً د پښتون قوم په شان یو قوم چې د هغه ټـول تاریخ د معرکو او جنګریز نه ډک دے. د عدم تشـدد پــه لار روانول صرف یو ساده سیاسي عمل نۀ دے. دا یـو داسې عـمـل دے چې د سیاسیاتو نه پـورتـــه د زړۀ او روح د تړون سـره تـعلق لري او د بـاچـاخـان د فـکـر او عـمل د رښتینولۍ د ټولو نه لـوئې ثبـوت دے. او هغه پښتون قوم چې د تاریخ په اوږدو کښې ئې لوئې لوئې فاتحان او جنګیالي

پېدا کړي. په دې خبره په ځائې فخر کولے شي چې د دوي پــه مېــنځ کښې د غلامئ پـه دور کښې يو داسې ستــر فــرزنـد پېدا شو چې هغه د انسانيت د لوئې معراج د لارې لاروے او استازے ؤ. پښتون قوم په دې خبره په ځائې فخر کولے شي چې د دوي د خـاورې ستر فرزند او د دوي په باباګانو کښې يو لـوئې بـابـا داسې هم پېدا شو چې هغه د زمکې په مـخ د انســانيــت د کـاروان په لويو سالارانو کښې شمار دے.

پـه زمکه د انساني ژوند مثال د يو درياب دے. د دې درياب اوبۀ په بيلو بيلو لختو تللي. او پــه بيـلــو بيـلــو سيـمو تقسيم شوي. د ژوند ډېر اړخـونه دي او د هر اړخ د تول پېمانې جدا جدا دي. د هـر اړخ د کـمـال مـعـيـار هم جدا جدا دے. ځينې خـلـق پـه يو ډګر کښې کمال ته رسېدلي ځينې په بـل کښې. افـلاطـون او ارسـطو د فلسفې پـه لوړ مسند ناست دي او سکندر او چنګيز د جهانګيري او جهـانبانئ په لوړو سوکو. خو ځينې خلق داسې دي او دا خـلـق پـه شمار تقريباً د نيشت برابر دي. چې هـغـوي د انســانيــت د لـوئې دريـاب د مېنځ لامبـوزن دي. دا خـلـق د نـفــس،حرص او هوس د دامـونو نه مبرا دي او د دوي د ژوند مقصد او کار د نـورو نـه جـدا دي دا هغه خلق دي چې ورکول کوي خـو اخستـل نـه. دا هـغه خلق دي چې جدوجهد او مبــارزه کوي خو ځان له څه نه غواړي او ټول د آدم اولاد لـــوئې غـــواړي. نـــه د دوي پـــه سـر کښې د فلسفې فانوس بل وي او نه پکښې د طاقت او زور حـاصـلـولـو خواهش. خو د دوي په زړۀ کښې يوه خـدائي رنړا پرته وي. دوي يوه داسې غنا لري چې نـه د حاتم په وس کښې ده او نه د قارون. دا خلق د حــق دپــاره او تــش د خـدائې دپـاره د انســان او انســانـيـت خـدمـت کوي. د دوي پـه لاس کښې د امـن،مـيـنې او وروروګـلوئ مـثـال وي او د دوي پـه سيـنـــه کښې د صبـر او زغـم يو نـه ختمېدونکې زيـرمـه خـونـدي وي. د دوي د زړۀ اطمينان په دې راځـې چې د نـورو انسانانو آزادي،حق،خوشحالي او ســوکـــالــي پـــه ځـائې کړي. دوي پـه خدمت او قـربـانـئ نـه خفه کېږي نه ستړے کېږي. بلکې د دوي ټـول ژوند،ټوله خوشحالي او ټول قرار په دې کښې وي چې د بـل انســان پـه کـار راشي. دا هغه خلق دي چې د دوي له مخه د دوي له برکته په مخ د زمـکې د انسانيت کاروان روان دے. او د انسانيت هغه شمع چې د تاريخ په اوږدو کښې اکثر د ظلمت د طـوفـان سـره مـخامخ وي د دوي په دم بله ده. دا پاک ذهنونه،دا پاک زړونه، دا پاک روحونه هغه دي چې لـوئي ئې د زمکې د پېمانو د کچ نه بهر ده. دا هـغـه کسان چې د دوي په کچکول کښې د سکندر تــاج پــروت دے. دوي د خپـلو وينو نه د بل د زخم مـرهـم جـوړوي. خپـل ځان سيزي چې د بل جهان رنړا شـي. خپـل ځـان ورانـوي چې د بل دنيا آباده شــي. دا خـــلـق پـــه خـاوريـنـــه زمـکـــه د ابـدي حـقيقت،مينې او وروروليـ استازي دي او د وخت او مـکــان د قيـد او بـنـد نه آزاد. ستر پښتون بابا باچاخان د انسانانو د دغه ډلې سره تعلق لري.

د لوئې پښتون بابا فاني بدن د جهانه تېر شو. خو د هغه نظريه او پېغام باقي دي. تر څو چې په زمکه د آزادۍ،امن،مينې او رښتياؤ نومونه اخستلے شي. د بابا نوم به ورسره سم يادېږي. او کله چې انسانان د دې قدرونو په تکل کښې ګام اوچتوي نو د بابا خيال او مثال به د دوي ملاتړ او رهبر وي. د تيارۀ شپې او سختې لارې د هغه مسافرو دپاره چې د انسانيت د معراج په منزل پسې ګرځي. د بابا مثال د يو داسې ځلاند ستوري دے چې دائم او قائم په اُفق ولاړ وي او په هيڅ زُول او طوفان کښې خپله رڼا نه کموي نه بدلوي.

د بابا د خاورين تن آخري آرمګاه په جلال آباد کښې ده او د هغه عظيمې کارنامې د تاريخ نه ورانېدونکې برخه او ښکلا ده. خو د بابا اصلي ځائې د هغه بې شماره،بې حسابه انسانانو په زړۀ کښې دے د چا خوشحالۍ او خدمت ته چې هغه خپل ژوند وقف کړے ؤ. د بابا ځائې د دغه خلقو په زړۀ کښې دے او تل به وي. هغه بې برخې انسانان چې د آزادۍ،امن،سوکالۍ او خوشحالۍ نه محرومه وو يا دي. بابا د هغوي ټولو د زړۀ په دنيا کښې ؤ او وي به. هغه خلق چې د مينې، برابرۍ او خدمت په اصولو يقين لري او لري به. بابا د هغوي ټولو مل،لارښود او رهنما دے او وي به. هغه ماشومان چې په خېټه اوږي او مخونه ئې خېرن دي هغه نغري چې په سپېرو ايرو ډک دي او اور په ارمان دي. هغه زړونه چې د غم تيارې نيولي او هيڅ غمراز نه لري. بابا د دې ټولو د سر سيورے او د ارمانونو ترجمان دے. بابا د ځپلے شوي،بې وزله انسانانو د لښکر په سر ولاړ هغه عظيم مجاهد دے چې د مينې په توره او د امن په ډال د کمزوري او بې وسه انسان د حق جنګ کوي.

بابا پرون په مونږ کښې ؤ نن نشته. خو د هغه اصول او پېغام به تر تله په زمکه ژوندي وي. هغه زمونږ وخت ته ډېر لنډ ؤ او د تاريخ په تالار کښې مونږ لا د هغه د حقيقي مقام او مرتبې ټاکنه نه شو کولے. او رښتيا خبره دا ده چې د تاريخ په تالار کښې هغه په ډېرو بېلو بېلو لوړو مسندونو د کښېناستو جوګه دے. خو زما زړۀ وائي چې يوه ډېره زمانه تېره شي او د وخت جريان ډېر هغه څيزونه چې نن شته د ځانه سره يوسي او ډېر هغه څيزونه چې نن نشته مېنځ ته راولي. چې نور خلق، نور حالات او نورې زمانې پېدا شي او بيا يو بې طرفه، بې غرضه مبصر په تاريخ کښې د بابا د مقام ټاکنه کوي، نو زما په فکر د بابا ځائې به د لوړو انسانانو په هغه ډله کښې وي کومه کښې به چې د لوړې پائې او قبيلې خلق ناست دي. او پښتون قوم چې په خپل تاريخ کښې د ډېرو بدبختو سره مخ پاتې شوے، به په دې خبره په ځائې سر اوچت اوږي چې د زمکې د لوئې او پاکو انسانانو په جمله کښې يو داسې کس هم شته چې پښتون پلار او پښتنې مور زېږولے ؤ.